دویم چاپ

# هغه راهب

## چې خپل فراري موټر یې خرڅ کړ

هیلو او موخو ته د ځان رسولو داستان

لیکوال: رابین شرما

ژباړن: جبار فراز



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خپرندوی یادښت

هغه راهب چې خپل فراري موټر یې خرڅ کړ، د پېژندل شوي لیکوال او ویناوال رابین شرما مشهور اثر دی، چې د پښتو ځیرک او ښه ژباړن جبار فراز له انګلیسي څخه پښتو کړی.

دغه الهام بخښونکی کتاب تر اویا زیاتو ژبو ته اوښتی او تر پنځوسو زیاتو هېوادونو کې پنځه میلیونه شاوخوا پلورل شوی دی.

دا کتاب د دوو کرکټرونو جولیان منټل او د هغه د نږدې ملګري جان د محاورو او خبرو اترو په چوکاټ کې د ځان جوړونې، خوښ ژوند، موخو ته د رسېدو او داسې نورو مهمو موضوعاتو په اړه خوندور درسونه لري.

په دې کتاب کې بریالی وکیل جولیان د اروایي سولې او ارامۍ په لټه همالیا ته د خپل سفر کیسې کوي، په دې داستان کې راغلي درسونه او تجربې ګډوډې نه بلکې ډېرې منظمې بیان شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هغه راهب.../ ۲**

په کتاب کې بیان شویو اوو هدفونو ته د رسېدو سفر ډېر خوندر ، په زړه پورې او عملي دی.

د خپل ذهن او فکرونو کنټرول، په ژوند کې د هدف لرل، د شخصیت جوړونه، په ژوند کې ډسپلین لرل، د وخت درنښت او په هغه شیانو پسې په ځغاسته چې په ژوند کې خوښې نه درکوي د خپلو با ارزښتو شېبو نه ضایع کول، له نورو سره بې له هدفه مرسته کول او پر روان وخت خوند اخیستل او خپلول په دې کتاب کې بیان شوي هدفونه دي چې د انسان په ژوند کې په لویه کچه مثبت تاثیر او خوښي راوړلای شي.

ښاغلي فراز دا کتاب په ډېره مینه په خورا روان او ښه ډول پښتو کړی، زموږ دا باور دی چې ستاسو به خوښېږي او پر ژوند و فکر به مو مثبت اغېز ښندي.

خوښ یو چې د خپلو کتابونو د چاپ په لړ کې یو ډېر په زړه پورې او مهم اثر درته وړاندې کوو.

**په درنښت**

**سروش کتابپلورنځی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


یو څو خبرې.................................... ۵

لومړی څپرکی

خبرداری.................................... ۹

دویم څپرکی

مرموزه مېلمستیا.................................... ۱۸

درېیم څپرکی

د جولیان منتل معجزوي بدلون.................................... ۲۳

څلورم څپرکی

د سیوا ناله حکیمانو سره جادوګره لیدنه.................................... ۳۸

پنځم څپرکی

د حکیمانو روحاني زده کوونکي.................................... ۴۲

شپږم څپرکی

د ځان بدلولو پوهه.................................... ۴۸

اووم څپرکی

یو خارق العاده بڼ.................................... ۵۹

اتم څپرکی

د دننني اور تازه کول.................................... ۹۵

نهم څپرکی

د ځاني مدیریت لرغونی هنر.................................... ۱۱۹

لسم څپرکی

د ځاني نظم ځواک.................................... ۱۷۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



## يوولسم څپرکی

تر ټولو ارزښتناکه شتمني.................................................. ۱۹۴

## دوولسم څپرکی

د ژوند اصلي موخه.................................................. ۲۱۰

## ديارلسم څپرکی

د تلپاته خوښۍ راز.................................................. ۲۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یو څو خبرې!

د دې اثر لیکوال رابین شرما نومېږي چې د ۱۹۶۵م د مارچ پر ۱۸مه کاناډا کې زوکړی دی.

ښاغلی شرما حقوق پوهنځی لوستی، تر ۲۵ کلنۍ یې په همدې ډګر کې د مدافع وکیل په توګه کار کړی او ستاسې په لاسونو کې پروت کتاب یې د افکارو لومړنۍ چاپي هڅه ده چې له بازار ته راوتلو سره سم(۱۹۹۴م) یې د ده نوم وراسماني کړ.

دغه کتاب تر دې دمه څه باندې پنځه میلیونه نسخې پلورل شوی او تر ۷۰ زیاتو ژبو ته اوښتی دی چې له شکه خلاص یې د ارزښت یوه څرګنده نښه بلل کېدای شي.

**ولې مې پښتو کړ؟**

وخت ناوخت به د (هغه راهب چې خپل فراري موټر یې خرڅ کړ) کتاب نوم هلته دلته مخې ته راتلی او هر ځل به یې یادوونکي ښه غوړ-غوړ صفتونه هم کړي ول. خو ما به چې هر وار پر ګوګل راواړاوه ترې تېر به شوم، ځکه نامه یې چې رښتیا شي چنداني نه ګیرولم. اخیر مې یې یوه ورځ د دفتر له یوه صومالي همکار سره سویډنۍ ترجمه ولیده. تر سلام کلام مخکې مې یې د منځپانګې په اړه وپوښت. هغه هم لکه زما د پوښتنې وړاندوینه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې کړې وه او تیاری یې ورته درلود، بېله څنډه خپله مدحه راونښلوله. دومره یې وستایه چې کور ته له رسېدو سره سم مې لومړنی کار پر موبایل د همدې کتاب د مطالعې هوډمن پیل وو.

سم یې په یوه اروایي غضب واړولم؛ پرېښودل او پای ته رسول دواړو یې خوند نه راکاوه. پر نیمایي مې ځکه نشوای خوشې کولای چې بې حده خوندور، له تلوسې ډک او یومخ راته نوی وو او خلاصول مې یې هم په دې وجه زړه نه غوښتل چې ویل مې بل دومره جالب کتاب به بیا له کومه کوم؟

څه سر مو سره درڅرخوم، په ټوک-ټوک مې بالاخره وروستۍ پاڼه ورواړوله. له دې سره جوخت مې پر ایران مېشتي سخي یار فدامحمد ورغ وکړ. الله دې اجرونه ورکړي په نیمه خوله یې هم وپېرى، هم یې پاڼه په پاڼه عکسونه ځنې واخیستل او هم یې راولېږی.

ستاسې څخه دې پټه نه وي پارسي نسخه مې یې د کلابندۍ لپاره راوغوښتله. ویل مې که کولنګ پر ګاره درېدی، نو به ایرانیان پر ګورم څه پلار و نیکه خو مې انګرېزان نه ول چې ژبه به مې یې سر تر پایه زده وي او هیڅ به مې موټر خامې ته نه اوړي. د ایراني ژباړن دې خانه اباده وي، لسګونه ځایونه یې ګاډۍ تېره کړې وه؛ یا به یې په انګلیسي جمله سم سر نه وو خلاص شوی او یا به یې هم د کوم مجبوریت له مخې اصلي مطلب پر بله خوا روان کړی وو. البته یاده دې وي چې زه دا خبره په هیڅ وجه د ځانښودنې یا کوم بل پوچ غرض لپاره نه کوم، بلکې ډاډه یم چې زه به هم ښایي تر هغه لا ډېر ښوییدلی یم. هسې مې غوښتل تاسې هم د پردې تر شا جریانه څه ناڅه خبر کړم.

بېرته خپل هدف ته راګرځم؛ دا چې د کتاب په کړښه-کړښه کې مې زموږ د سترو، لالهاندو او دوه زړو اروااوو علاجونه ولیدل، نو مې یې بېله کومې دوه زړۍ د پښتو کولو هوډ وکړ. اوله پلا وه چې د یوه کتاب له ژباړلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې دومره خوند اخيست، څکه د هرې پاڼې هر پارگراف يې دژوند له لارې د ازغيو ټولولو، موخو ته د ځان رسولو، شخصيت غښتلي کولو، هود اوسپنيز کولو او روح تسکينولو يوه نايابه نسخه وه.

د ژوند د لنډ خو ستړي سفر په اوږدو کې نه له پرتو ستونزو سره مقابله چنداني اسانه ده او نه هم هغه لارښوونې چې سړى د دغه کار جوگه کوي. د دغې دعوې د رښتيانې لپاره کافي ده ووايم چې پر دې موضوع هر کال په زرگونو اثار چاپېږي خو يوازې يې يو څو گوتشمېر د خلکو خولو ته لوېږي. ښاغلی شرما د دغه کار تر عهده خورا په ښه ډول وتلی دی. ده د خپل پيغام لپاره داسې يو قالب ټاکلی چې هم خوږ لگېږي او هم نيغ پر ښبه ننبلي. کتاب که څه هم پر څپرکو سره وېشلی او هر څپرکی يې بيا ځان ته يو بېل بحث لري، خو په ټوليز ډول له سره تر پايه په يوه کلک او نه شکېدونکي تار سره پېيلی دی. دا مهارت زما په اند يوازې و يوازې د نثر په داستاني بڼه کي شته. په بله ژبه: که وتوانېدې چې خپل مطلب ته روغه کيسه ييزه جوله ورکړې، نو بريا دې سر له هماغې لومړۍ شېبې مبارک شه.

(هغه راهب چې خپل فراري موټر يې خرڅ کړ) له اره خپله د ليکوال ښاغلي شرما له مسلکي ژوند(وکالته) الهام اخلي او د يوه داسې وکيل د ژوند دوه يومخ بېلابېل حالتونه ننداري ته ږدي چې له مادي اړخه يې د بخت ستوري په سپينه ورځ د خلکو سترگې ورچوغۍ کولې، مگر له مانوي پلوه-ياني له دننه څخه-هغې دنگې ونې ته ورته وو چې ټولې ريښې يې وچې شوي او يو نرى شمال يې راغوځارولای شي.

دا وکيل چې په اصطلاح د فلم هلک يې بللای شو، جوليان منټل نومېږي. نوموړی يودم خپل ټول شته-له پرتمينې ماڼۍ واخله تر شخصي الوتکې او تک سره فراري موټره پورې-خرڅوي، ترک دنيا کېږي او پر يوه ناڅرگنده خوا مخ نيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم لوبغاړی د جولیان منتل مسلکي انډیوال و شریک مدافع وکیل جان دی چې ژوند یې لږ و ډېر خپله د منتل په شان د توري بوري په یوه غار ننوتلی او پر سر یې بې پیلوټه الوتکه بنګېږي.

درېیم او خورا بارز شخص د یوګي رامان په نامه یو راهب دی چې د همالیا غرونو پر دنګو څوکو اوسي او همالته لوړ او له ټول معاصر پرمختک و مدنیته لیرې د مدنیت ځپلي انسان پر ځت د ناستې خپسکې د ولاړولو غم اخیستی دی.

که څه هم تاسې ته به د پلاټ د پېژندنې په اول پارګراف کې داسې ښکاره شوې وي چې ګواکې اصلي غوټه مې درته پرانیستله. نه، په هېڅ وجه د دغې تېروتنې ښکار نشئ. دا سره له دې چې په داستاني شیرینۍ سمبال اثر دی، خو له هېڅ اړخه یوه عام داستان، ناول او په دې نامه بل بلا و بتر ته ورته نه دی. دلته راغلي مسایل دومره افاقي، فوق العاده او ګټور دي چې که یې د لوستلو پر مهال لږ دقیق شئ او بیا یې پسې عملي هم کړئ، نو ډاډه یم چې ټول روحي ټپونه به مو ورسره ورغېږي.

په دې کې هېڅ شک نشته چې موږ ټول د راباندې حاکمو حالاتو له څوره په یوه توپان اخیستې بې مانو بېړۍ کې ناستو مسافرو غوندې یو او بیله کوم توپیره یوه مدبر ژغورونکي ته اړتیا لرو، زه په دعوه ویلای شم چې همدغه کتابګوټي کې راغلي تاکتیکونه او لارې چارې کټمټ همدغه خدمت راته کولای شي؛ بس لږ وخت ورایستل او له ځیرتیا څخه کار اخیستل په کار دي.

تر دې زیات څه نه لرم او نه یې هم لیکل غواړم بس یا بسم الله!

ښه مطالعه ولرئ.

په مینه

ستاسې فراز

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## خبرداری

له خلکو په ډکه محکمه کې پر ځمکه راولوېد. د هیواد یو وتلی مدافع وکیل وو. هغه نه یوازې د خپلې فېشني بنې او درې زره ډالري درېشۍ، بلکې پر حقوقي ډګر د پرله پسې بریاوو له امله هم خورا لوی نوم درلود. زه هلته ناښوره ولاړ وم او تازه پېښې شوي حادثې مې لاس و پښې رافلج کړې وې. ستر جولیان منتل دا ګړی یوه حلال شوي پسه ته ورته وو؛ لپټکې[1] یې وهلې، ټول اندامونه یې لړزېدل او د یوه اروایي ناروغ غوندې خولې پر راماتې وې.

له هغې شیبې وروسته هر څه ورو شوي غوندې برېښېدل. حقوقي سلاکارې چیغه کړه:

– هلئ پر جولیان د زړه حمله راغله!

---

[1] لپټکې – لاس و پښې وهل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په خورا جذبه یې زموږ د سترګو پر وړاندې د روانې صحنې یو روڼ تصویر راته وړاندې کړ. قاضي هم وارخطا ښکارېد. سملاسي یې د مېز تر څنګ په راځوړند بېړني تلیفون کې یو څه وویل. زه همالته وانښ وغوزی او سرېداله ولاړ وم.

- اې احمق سپين ږيريه! هیله کوم مه مره. لا ډېر وختي دی. ته د داسې مرګ لایق نه یې لطفاً!

د محکمې ناظر چې تر دې دمه د یوه مومیایي شوي لانښ غوندې وچ ولاړ وو، یودم راوڅغاستل او پر ځمکه پراته اتل وکیل ته یې په مصنوعي تنفس ورکولو شروع وکړه. حقوقي سلاکاریې هم څنګ ته ګونډې وهلې وې، اوږد ژړ پیکی یې د جولیان پر سور مخ ورخپور وو او په مینه-مینه یې تسلي ورکوله، خو مالومه وه چې هغه یې خبرې نه اورېدې.

جولیان مې له اوولسو کلونو راهیسې پېژاند. له نوموړي سره د لومړي لیدنې پر مهال د حقوقو ځوان محصل وم او د ده یوه شریک د اوړي د یوې څېړنې لپاره د تړېنې[۱] په توګه پر کار ګومارلی وم. هغه مهال یې هر څه لرل. یو ځیرک، فیشني او بیباکه مدافع وکیل وو او یو عالم لوړې هیلې یې په سر کې پاللې. جولیان د یوه حقوقي شرکت ځوان ستوری وو او په داسې وختونو کې چې د نورو په کارونو پسې خوله وتله[۲]، ده خپل شرکت ته نوي-نوي پروژې ورکشولې. تر اوسه مې په یاد دي. یوه شپه تر ناوخته په کار اخته وم. د ده د شاهانه کارځای مخې ته-چې د عمومي دفتر په یوه ګوښه کې پروت وو- تېرېدم او غلچک مې یې پر لوی لرګین مېز یوه پراته

---

۱ Trainee.

۲ خوله وتل - دا اصطلاح سهېلي سیمو کې ډېره عامه ده. مانا یې له یوه شي، چا او ځای سره بې حده مینه او تلوسه ده. کله چې یو څوک د لېونتوب تر بریده د یو څه غوښتنه ولري، مګر نه ور رسېږي، نو وایي چې خوله مې پسې وزي/وتلې ده، یانې غواړم یې خو ترلاسه کولای یې نشم. پښتو ژباړن.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرېم ته وکتل. پر هغه د وینستن چرچل یوه وینا لیکلې وه چې د حال په ژبه یې د جولیان په شان یوه کس انځور وړاندې کاوه:

"تن هیلو ته رسېدلي او پر خپل برخلیک برلاسه شوي یو. یانې زموږ پر اوږو را ایښودل شوی پېټی راباندې درونډ نه دی. یانې اضطراب او د هغه لومې مو له زغمه نه دي وتلي. که مو پر خپله هڅه او نه ماتېدونکي هوډ باور ودرلود، نو بریا به هم (نه!) راته ونه ویلای شي."

جولیان هم پر هماغه لار روان وو چې په هغه تابلو کې یې یادونه شوې وه. د هغې بریا پر لوري یې کلک او هوډمن ګامونه اوچتول چې پر ترلاسه کولو یې پوره باور درلود. په بشپړه لېوالتیا یې د ورځې اتلس ساعته کار کاوه. د اوازو له قراره چې نیکه یې مخور سناتور او پلار یې د فیډرالي محکمې له مشهورو قاضیانو څخه وو. مالومداره چې په یوه خانزاده کورنۍ کې زېږېدلی وو او په ارماني[۱] جامو پوښلو اوږو یې یو درونډ پېټی لېږداوه. خو باید ومنم چې پر یوه بېله او ځانته لار روان وو. هر کار یې په خپله ځانګړې تګلار کاوه او له ځانښودنې سره یې هم مینه درلوده.

د جولیان د لړزوونکو او نندارېزو محکمو بهیرونه به هر وخت د ورځپاڼو سرټکي ول. هر شتمن او مشهور کس چې به یوه ممتاز، هڅاند او بریالي وکیل ته اړتیا پیدا کوله همده ته به یې منډې وروهلې. د ده د تفریح او ساتېري کیسې هم د خپل ډول خورا مشهورې هغه وې. له ځوانو او زړه راکښونکو فېشن ماډلانو سره د ښار په لوکسو هوټلونو کې د شپې ناوخته لیدنې او د شرابو له افراطي نشې څخه د تېښتې په پلمه له یوې لنډغرې ډلې سره ناستې ولاړې د وکالت د ډګر د دغه اتل بوختیاوې وې.

اوس مې هم سر نه خلاصېږي چې زه یې هغه اوړی په خپله لومړۍ لیدنه کې د قتل د هغې حساسې قضیې لپاره ولې د خپل همکار په توګه

---

[۱] Armani د جامو جوړولو یو مشهور ایټالوی شرکت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتخاب کړم. سره له دې چې له هارورډ پوهنتونه-چې خپله ده هم درس پکې ویلی وو-فارغ شوی وم بیا هم د شرکت تر ټولو تکړه ټرېنې نه وم او دغه راز مې کورنۍ ریښې هم د ټولنې له هیڅ اشرافي پوړۍ سره نه وې نښتې. پلار مې وروسته تر هغه چې په سمندري ځواکونو کې د ګڼون لپاره ونه منل شو، خپل ټول ژوند یې د یوه سیمه ییز بانک په امنیتي څانګه کې پر کار کولو تېر کړ. مور مې هم ډېره ساده او بیله تشریفاتو برونکس[۱] کې لویه شوې وه.

ډېرو خلکو په دغه قضیه کې-چې د ټولو جنایي دوسیو د مور په نامه مشهوره شوې وه--د جولیان تر لاس لاندې کار کولو لپاره رنګارنګ پټې هڅې کولې. خو د هغو ټولو له منځه یې زه وټاکلم. راته ویې ویل چې زما شور و شوق یې خوښېږي. هغه محاکمه مو وګټله او کوم مدیر چې د خپلې مېرمنې د بېرحمه وژنې په تور نیول شوی وو، اوس ازاد ګرځي یا هم لږ تر لږه دومره ازاد دی چې د هغه لالهانده وجدان یې اجازه ور کوي.

په هغه اوړي کې ترلاسه کړې زدکړه بې حده ارزښتناکه وه. ان ویلای شم چې تر درس یې لا اوچته درجه راته درلوده. د زدکړې اره موخه دا وه چې څنګه ان هغه وختونه لا یو منطقي شک زېږولای شو چې بېخې یې امکان نه وي. او په دغه مهارت سمبال وکیلان د ډېر لوی نامه څښتنان ول. د اروا پوهنې په دغه درس کې د استاد عملاً لیدل یو نادر فرصت او بریالیتوب وو. ټول درس مې لکه سفنج داسې ماغزو ته راکش کړ.

د جولیان په بلنه او زما د پلان خلاف، د نوموړي په شرکت کې پر دایمي دنده وګومارل شوم او خورا ژر مو تر منځ د یوې خوږې ملګرتیا تار وغځېد. پاته دې نه وي چې له نوموړي سره کار په هیڅ وجه اسانه خبره نه وه. هر ګړی به یې سړی د نهیلۍ ښکاراوه. ځینې وختونه خو به ان خبره د دعوو-

---

[۱] Bronix د نیویارک یوه سیمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنګلو تر بریده هم رسېده. یوازې و یوازې به د ده نظر مثل ګېډی او ګواکې هېڅکله یې تېروتنه نه کوله. په هر صورت، د هغه تر دغې خشنې بڼې لاندې داسې یو کس اوسېد چې تل یې د خلکو ملاتړ کاوه.

هر څومره چې به بوخت وو بیا به یې هم تل د جینې په اړه پوښتنه راڅخه کوله. نوموړې هغه ښځه ده چې اوس یې هم (زما ناوې) بولم. د پوهنځي تر پیل وړاندې مې واده ورسره کړی وو. کله چې جولیان د یوه کارکوونکي له خوا زما په مالي تنګلاسۍ خبر شو، نو فوراً یې حق الزحمه رالوړه کړه. سره له دې چې له ډېرو غټو بلاوو سره یې د غېرې نیولو توان درلود او زیات کار یې خوښ وو، بیا یې هم په هېڅ وجه خپل ملګري له یاده نه ایستل. تر ټولو لویه ستونزه یې په کار کې تر سرمو ډوبېدنه وه.

په لومړیو کلونو کې به یې ویل چې اوږده کاري ساعتونه یې یوازې د شرکت پر ګټه دي. یا به یې ویل چې یوه میاشت رخصتي به اخلي او راتلونکی ژمی به په کیمن[۱] جزیرو کې تېروي. د وخت په تېرېدو یې د خپل ځراکت او وړتیا په برکت خورا ډېر لوی نوم وکړ او ورسره سم یې بوختیاوې هم ډېرې او دوسیې لا غټې او خوندورې شوې او ده هم ان یو ځل له کومې تنګونې مخ وانړاوه. هر وخت به یې تر سخت د سخت کار کولو تلاښ کاوه. کله ناکله چې به وزګار بېدی هم به تر دوه ساعته خوب وروسته بېرته راغورځېد او سملاسي به یې پر یوه دوسیه کار پیلاوه. ګواکې ان یوې لنډکۍ تفریح هم د ګناه په احساس اخته کاوه. ډېر ژر مې سر خلاص شو چې د شهرت، ویاړ او پیسو د ډېرولو تندې د ځان د بربادۍ پر خوا روان کړی دی.

له تمې سره سم له جولیانه یو بې حده بریالی انسان جوړ شو. هر هغه څه یې تر ګوتو کړل چې ډېری انسانان یې یوازې خوبونهویني لکه: یو ډېر لوړ

---

[۱] Caymuns د کاراتیپ سمندر لوبدیځ ته پرتې جزیرې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عایدوالا کسب، د نوموتو گاونډیانولرونکې شانداره مانۍ، شخصي الوتکه، په یوه گرمسېره جزیره کې خپله ویلا، ناپایه شتمني او تک سور فراري موټر چې کور ته د غځېدلي لارې پر منځ به ولاړ وو.

خو دغه څیزونه دومره هم خوندور نه ول لکه ښکارېدل چې. په هر یوه کې مې یې د یوه رانژدې کېدونکي مرگ څېره له ورایه لیدله. البته دا په دې وجه نه چې د شرکت تر ټولو څیرک کارکوونکی وم، بلکې په دې چې زیات وخت مې له دغه سړي سره تېراوه. دا چې تل به بوخت وو، نو همېشه به سره یوځای وو. معمول داسې وو چې کارونه باید ډېر گړندي رواڼ وای. همېشه به دویمه دوسیه تر لومړۍ لویه او سخته وه. هر څومره تیاری چې به مو کاوه بیا به مو هم زړه اوبه نه څښنلې. همدا اندېښنه به راسره وه چې که قاضي دا یا هغه پوښتنه وکړه؟ که مو کړي څېړنې کافي نه وې؟ که په ډکه محکمه کې د هغه سویکي غوندې وچ ودرېدو چې نابېره د موټر څراغونه پر برابر شوي وي، نو څه به کوو؟ همدا وجه وه چې تر وروستي برېده به مو پر ځان زور راووست. زه هم ورو-ورو د جولیان د کار په گرداب کې د ډوبېدو په حال کې وم.

په داسې حال کې چې نورو ټولو هوښیارو انسانانو له خپلو کورنیو سره له خونده ډکې شپې سبا کولې، موږ دوه د وخت غلامان له اوسپنې او ښیښو څخه د یوه جوړ پارتمان په ۶۴م پوړ کې په لومه ښکېل وو او داسې مو انگېرله چې خیر و خیریت دی او نړۍ مو تر قدمونو لاندې ده. د بریالیتوب پوچخیالۍ مو سترگې راړندې کړې وې.

هر څومره چې به مې له نوموړي سره زیات وخت تېراوه هغومره به په دغه گرداب کې لا ژور غوټه کېدم. سمدم تا چې ویل د خپل مرگ په تمه ناست دی. هېڅ شي خوشحالولای نشوای. اخیر یې گډ ژوند له ناکامۍ سره مخ شو، نور یې له پلار سره هم خبرې نه کولې او سره له دې چې هر هغه څه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرل چې یو انسان یې هیله کولای شي بیا یې هم خپله ورکه نه وه موندلې. دا څه رنده ارزونه، نه وه. بلکې د دې هر څه نبض یې پر احساساتو، جسم او اروا لمر غوندې ځرګندې وې.

په ۵۳ کلنۍ کې څو اویا کلن ایسېد. مخ یې له ګونځو ډک وو. پاته دې نه وي چې د ده کاري او په تېره نامتعادلې ژوندنۍ تګلارې ته په کتلو سره یې اوس هم ګونځې کمې وې. ځکه د ده شعار وو: په هر قیمت ځان موخې ته ورسوه او پر دښمن هېڅ زړه سوی مه کوه. په ګرانبیه فرانسوي رستورانونو کې د شپې ناوخته ماښامنیو، د کیوبایي سیګارونو څکولو او د کنیاکونو افراطي څښناک یې وزن په شرموونکې بڼه ورلوړ کړی وو. تل یې له سترېا او ناروغۍ سر ټکاوه. هغه مخکنۍ شوخه طبعه یې له لاسه ورکړې وه او داسې برېښېدی چې بیا به هېڅکله ونه خاندي. د پخواني مستانه طبیعت ځای یې یوې وژونکې پرېشانۍ نیولی وو او ما خپله داسې انګېرله چې د ژوند موخه ځنې ورکه ده.

تر ټولو غمونکې لا دا وه چې په محکمه کې یې هم فکري تمرکز زیانمن شوی وو. پخوا به یې خپل بېساري فصاحت او پولادي دلیلونو ته ناست کسان خوله وازي کول، مګر اوس یې په ساعتونو-ساعتونو د قاضي په مخ کې پر داسې مبهمو دوسیو بېځایه او بې مورده اوږدې پرپرې[1] وراندې کولې چې یا به یې له اصلي موضوع سره ډېره لږه اړه لرله او یا به بېخې پر بله خوا سر وې. پخوا به یې د مدافع وکیلانو دلیلونو ته په خورا درنښت غبرګون ښود، اما اوس یې په خپلو سپکوونکو لغازونو ان د هغو قاضیانو د زغم کاسه هم ورچړپوله[2] چې وړاندې یې دی یو نابغه حقوقپوه باله. لنډه دا چې د جولیان د ژوند اور مخ پر ګلېدو وو.

---

[1] پرپره - پنډل بیان، بې مانا او بې تړاوه اوږدې خبرې/لیکنه.

[2] چړپول - د یوه لوښي داسې ښورول چې دننه پراته شیان یې تر څنډو راتوی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه بې اجله مرګ ته د هغه د ورنژدې کولو لامل یوازې له پرېشانیو ځنې ورلوېدلی کشمکش هم نه وو. د ده په اند کیسه تر دې ډېره ژوره وه. داسې ښکارېده چې له یوې مانوې ستونزې کرېږي. نژدې هره ورځ به یې راته ویل چې پر خپل ورځني کار هېڅ خوند نه اخلي او له دې اړخه ځان د پوچو احساساتو په دم کې لوېدلی احساسوي. ویل به یې چې که څه هم په لومړیو کې یې د کورنۍ د ټولنیزو فعالیتونو له امله حقوقو لوستلو ته ملا وتړله، مګر بیا هم پر خپل دغه مسلک مېین وو. د حقوقو عقلاني پېچلتیاوو او ننګونو یې انرژي او لېوالتیا ور څو برابره کړې وه. پر ټولنیزو بدلونونو د قانون د ځواک اغېز د ده لپاره د الهام او هڅونې یوه خوږنده سرچینه وه. جولیان هغه مهال یوازې د یوې کنټیکټ[۱] مېشتې کورنۍ یو شتمن هلک نه وو، بلکې خپل ځان ته یې د خیرښېګنې د یوه ځواک او ټولنیز پرمختګ د یوې وسیلې په سترګه کتل. ده خپله سرشاره ورتیا د نورو د لاسنیوي یوه ډېره ځواکمنه توښه بلله. دغې تګلارې یې ژوند ته مانا وربخښله، موخه یې ور روښانوله او د هیلو غوټۍ یې ورغوړولې.

خو د جولیان د بدمرغۍ سرچینه له دندې سره د ده خرې- پرې اړیکې نه، بلکې یو بل څه وو. شرکت ته زما تر راتګ وړاندې نوموړی له یوه لوی ناورین سره مخامخ شوی وو. د یوه لوړرتبه شریک په وینا یې یوه نه بیانېدونکې پېښه ورته شوې وه. تر پایه مې په دې اړه د چا له خولې کومه خبره راونه ایستلای شوه. ان د ده شریک بوډا هارډینګ[۲] هم چې ډېر وخت به یې د خپل بې مانا لوی دفتر پر ځای په ریټز کارلټن[۳] بار کې تېراوه او خوله یې هم پوره سوسته[٤] وه، راته وویل چې د دغه راز د ساتلو سوګند یې کړی

---

[۱] Connecticut د امریکا په شمال کې یو بروت ایالت.

[۲] Harding.

[۳] Ritz-Carlton.

[٤] د خولې سوستوالی - په خوله کې د خبرې نه ټینګېدو عادت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. دغه ناویلی راز چې هر څه وو، خو زما بدګوماني یې پارولې وه او دغه رنګه یې د جولیان حالت هم ورځ تر بلې ور خراباوه. پلټونکی حس مې بې حده زیات پارېدلی وو، خو تر دې مې بیا زیات له هغه سره مرسته کول زړه غوښتل. نوموړی مې نه یوازې لارښود، بلکې بهترین ملګری هم وو.

بالاخره هماغه پېښه وشوه؛ د زړه یوې زورورې حملې هوښیار جولیان منتل پر ځمکه را څملاوه او مرګ ته یې لږ نور هم ورنژدې کړ. هغه هم په اووم نمبر محکمه یانې هماغه ځای کې چې د (د ټولو جنایي دوسیو مور) قضیه یې پکې کتلې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی

# مرموزه مېلمستیا

د شرکت ټول غړي یوې ډېرې ښېرنۍ غونډې ته وبلل شول. د چلوونکي پلاوي په اصلي کوټه کې تخته سره ناست وو او ټول پوهېدل چې یوه ډېره لویه ستونزه پېښه شوې ده. بوډا هارډینګ پر خبرو راغی:
- له بده مرغه ډېر بد خبرونه درته لرم. پر جولیان منتمل پرون د اتلانتیک الوتنې شرکت د یوې دوسیې د دفاع پر مهال د زړه ځواکمنه حمله راغله. همدااوس په بېړنۍ ځانګه کې پروت دی، خو ډاکټریې د روغتیایي حالت د سمېدو خبر ورکړی دی. مګر خپله جولیان داسې یوه پرېکړه کړې چې زما په خیال تاسې ټول باید په خبر شئ. نوموړی غواړي زموږ له کورنۍ څخه ووزي او له شرکت سره د تل لپاره مخه ښه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تکان مې وخوړ. پوهېدم چې له ستونزو سره لاس و ګرېوان دی، مګر هېڅکله مې د تسلیمېدو وړاندوینه نشوای کولای. دغه راز مې زموږ دوو د ځانګړو اړیکو پر بنسټ اخلاقاً زما سره د دغې موضوع د شریکولو هیله ځنې لرله. دا لا څه چې ان په روغتون کې یې لیدو ته هم ورپرې نښودم. روغتون ته چې ورغلم نرسانو یې راته وویل چې ویده دی او باید راویښ نکړل شي. حتا ټلیفون ته مې یې هم ځواب نه وایه. ښایي زما څېرې هغه ژوند وریاداوه چې دی ځنې په تېښته وو او د هېرولو هڅه یې کوله. خدای خبر! خو ستاسې څخه دې پټه نه وي دغه غبرګون یې ډېر وځورولم.

پر دغه ټوله کیسه یوازې درې کاله اوښتي ول. د نوموړي په اړه مې وروستی خبر دا اورېدلی وو چې هندوستان ته تللی دی. خپل یوه شریک ته یې ویلي ول چې غواړي ژوند ساده کړي او د خپلو پوښتنو په ځوابونو پسې وګرځي. په وینا یې د خپلې دغې ورکې د موندلو هیله یوازې د هماغې له رازونو او مانویته ډکې ځمکې څخه لري. خپله لویه ماڼۍ، الوتکه او شخصي جزیره یې پلورلې وه. ان فراري موټر یې هم خرڅ کړی وو. له ځان سره مې فکر وکړ: جولیان منټل د یوه هندي یوګي په بڼه! حقوق د خپل ډول په تر ټولو مرموز شکل!

په دغو درېیو کلونو کې له یوه پرکاره وکیل څخه په یوه بوډا، سترې او تر یو حده نهیلي هغه بدل شوی وم. ما و زما ماینې جیني هم یوه ګډه کورنۍ درلوده. اخیر زه هم مجبوراً د یوه مانالرونکي ژوند په لټه شوم. زما په خیال لامل به یې دا وو چې پلار شوی وم. اولادونو مې د نړۍ او په هغې کې زما د رول په اړه لید ته بېخکي بدلون ورکړ. تر ټولو ښه خبره مې پلار راته وکړه:

– جانه! کله چې د مرګ پر بستر پرېوتې په هېڅ وجه به دا هیله ونکړې چې کاشکې مې تمامه ورځ کار کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا وجه وه چې له کورنۍ سره مې د زيات وخت تېرولو هوډ وکړ. يو نسبتاً برابر او په بنه پټ ژوند مې درلود. د شريکانو او مشتريانو د خوښ ساتلو لپاره مې د روټري[1] کلب غړيتوب اخيستی وو او په شنبو مې گلف لوبه کوله. خو بايد اعتراف وکړم چې په يوازېتوب او چوپتيا کې به مې اکثره د جوليان په اړه سوچ کاوه او سخت مې زړه غوښتل چې له احواله يې خبر شم.

ممکن په هند کې مېشت شوی وي، هغه هېواد چې له نورو سره بېخې ډېر توپير لري او ان د ده په شان ناقراره ارواوې هم د خپل کور په سترگه ورته کتلای شي. يا يې هم ښايي د نيپال مخه نيولې وي؟ يا هم په کيمن جزيرو کې پر لامبو وهلو بوخت وي؟ خو يو شی مې زړه ته تېر وو هغه دا چې خپلې رشتې حقوقو ته بېرته نه دی راستون شوی. له کومه وخته چې له وکالته لاس پر سر شوی وو، هېچا ته يې ان يو کارت هم نه وو رالېږلی.

دوې مياشتې وړاندې مې د خونې دروازې ټکېدو ځينې پوښتنې راځواب کړې. يوه سترې ورځ له وروستي مشتري سره تر ليدنې سملاسې وروسته مې تکړه حقوقي مرستيال ژنويو[2] په منډه واړه دفتر ته راننووت. هغه دفتر چې خورا په ظرافت اوډل شوی وو.

- جانه يو نفر راغلی غواړي درسره ووينې. وايي ډېر اړين کار يې دی او ستا سره له خبرو کولو پرته نه ځي.

په بې حوصلگۍ مې ځواب ورکړ:

- ژنويو! زه روان يم دباندې وزم. د هميلټن[3] د گزارش تر پای ته رسولو مخکې غواړم يو شی وخورم او اوس له هېچا سره د ليدو وخت نه لرم. دا

---

[1] Rotary.
[2] Genevieve
[3] Hamilton

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړي ته ووایه چې د نورو په شان د ملاقات وخت واخلي او که یې بیا هم ټینګار کاوه له ساتونکي څخه مرسته وغواړه.

– خو هغه ویل چې حتماً باید درسره ووینې او په هیڅ وجه له دې ځایه نه ځي!

یو ځل مې خیال شو چې خپله ساتونکي ته زنګ ووهم، بیا مې په ذهن کې راتېره شوه چې هسې نه په ربښتیا مرستې ته جدي اړتیا ولري. د یوه زړه سواند انسان په پوست ننوتم، کړه غاړه مې راوړه او ومې ویل:

– ښه، نو راوبې لېږه ممکن یوه غوړه ګوله وي.

د کوټې دروازه مې ډېره ارامه بېرته شوه. له پوره خلاصېدو سره سم یو شاوخوا دېرش کلن موسک سړی رابښکاره شو. دنګه ونه، ډنګر، فیټ او له ژوند و انرژۍ مالامال سړی. ما ته یې خپل د پوهنتون د پړاو بې عیبه ځوان ټولګیوال رایاد کړل. هغه ځوانان چې نامداره کورنۍ، موټران او ښکلي کړه وړه یې لرل. پر ځوانۍ او تازګۍ سربېره یې یو ډېر حیرانوونکی او مرموز کشش هم درلود. دننۍ ارامۍ په یوه روحاني شخصیت نازولی وو. او ما ته نېغې نیولې تکې شنې او تېرې سترګې یې داسې راباندې لګېدې لکه د یوه تازه بالغ شوي له شوره ډک ځوان پر مخ د خرپیلو په نیت یوه ایښودل شوې تېره چاړه.

له ځان سره مې فکر وکړ:

– ښایي له هغو ځیرکو وکیلانو څخه یو وي چې زما د کسب د تروړلو نیت لري. عجیبه ده! ولې هلته ولاړ دی او راته ګوري؟ خدای دې وکړي چې د تېرې اوونۍ د طلاق ګټل شوې قضیه د ده د مایني نه وي. ټولو احتمالونو ته له پاملرنې سره–سره که بیا هم ساتونکي ته زنګ ووهم چندانې احمقانه کار به نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوان هماغسې سترګې راپکې ګنډلي وې، کټمټ لکه بودا چې په بشپړه مهربانۍ خپل پالونکي ته ګوري. تر یوې اوږدې او ځوروونکې چوپتیا وروسته یې په حیرانوونکي او امیرانه انداز خبرې پیل کړې.

لومړی یې په پزه کې وخندل او وروسته یې وویل:

- جانه ته له خپلو ټولو مېلمنو سره همداسې چلند کوې؟ ان له هغوی سره هم چې په محکمو کې د بریالي کېدو دا ټوله پوهه یې درښودلې ده؟ ګرده[1] ملامتي زما وه باید د خپلې بریا راز مې پټ ساتلای.

یو ډېر عجیب احساس رالوېدلی وو. یودم مې زړه وښوېید. بیله ځنډه مې هغه غوږکڼوونکی خو خوږ اواز وپېژاند. زړه مې په زوره-زوره غورځېد.

- جولیانه؟ ته یې؟ هېڅ یې زړه ته نشم اچولای! درښتیاګو ته یې؟

د هغه ډکه خوله خندا مې شک په یقین رابدل کړ. مخامخ راته ولاړ ځوان هماغه هندی یوګي وو چې څه موده وړاندې ژوندی-ژړانده ورک شوی وو: جولیان منټل. پکې راغلو بدلونونو خوله وازې کړې وم. له دې ځایه تللی سړی-زما پخوانی ملګری-کټمټ یوه مړي ته ورته وو. پرله پسې یې ټوخل او مړاوې سترګې یې لرلې. څېره یې زړه او ناروغه وه. ټولو خلکو په همدغه بڼه پېژاند او همدا یې ګواکې د پېژندلو لویه نښه ګرځېدلې وه. خو اوسنی مخامخ راته ولاړ کس رک-روغ ښکارېد، ښوی صاف مخ یې ځلا کوله، سترګې یې برېښېدې لکه یوې له انرژۍ ډکې دنیا ته ورخلاصې درېڅې. د جولیان له وجوده خپرېدونکې ارامې نهایت پرکشیشه وه. د هغه په شتون او ورته کتلو کې مې د یوې ناپایه ارامۍ احساس کاوه. نور هماغه د یوه بریالي حقوقي شرکت نارامه لوړپوړی شریک نه، بلکې یو تازه، ژوندی، خندان او د بدلون له الهامه ډک ځوان وو.

---

[1] ګرده - ټوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریم څپرکی

# د جولیان منتل معجزوي بدلون

د نوي او بدل شوي جولیان منتل لیدو حیران کړی وم. په یوه خاموشه بې باورۍ مې له ځان سره وویل:

- دا څنګه امکان لري چې همدا څو کاله وړاندې یوه ستړې بوډا ته ورته کس دې اوس دومره ژوندی او مست وي؟ ایا دا یې کوم جادویي درمل خوړلي؟ د دغه فوق العاده بدلون لامل څه دی؟

جولیان د خبرو واګې واخیستې او ویې ویل چې د وکالت له سیالیو ډکې نړۍ نه یوازې له جسمي، بلکې اروایي پلوه هم له پښو غورځولی وو. لوړ سرعت او ناپایه غوښتنو ستړی کړی او ملاماتی کړی وو. اقرار یې وکړ چې بدن یې نور مخ پر ماتېدو وو او ذهن یې خپله وړتیا بایللې وه. د زړه حمله یوازې د ستونزو په یوه لا ژور کوهي کې د لوېدو یوه نښه وه. د یوه داسې مدافع وکیل ستړې کوونکې کاري پروګرام او تلپاتې فشار چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړیواله کچه یې کار کاوه. د نوموړي تر ټولو ارزښتناکه انساني ډالۍ یانې اروا ورځیلې وه. ډاکټر تر وروستۍ کتنې وروسته په کلکه ور ته ویلي ول چې یا باید کار پرېږدي یا ژوند. د جولیان په وینا دغه طلایي فرصت هغه اور ورباد کړ چې د ځوانۍ پر مهال پکې بل وو. خو له کومه راهیسې چې یې له حقوقو سره مینه کمه شوې او دغه رشته په یوه کاروبار ور ته بدله شوې وه، د هغه اور لمبې هم غلې شوې وې.

جولیان لګیا وو کیسه یې راته کوله چې څنګه یې خپله ټوله شتمني وپلورله او هندوستان ته ولاړ، هغه خاوره چې دی یې له وخته-وخته پر فرهنګ او مرموزو دودونو مېین وو. د دغه داستان د تېرولو پر مهال یې د هیجان کچه وار په وار لوړېده. له یوه کوچني کلي یې بل کوچني کلي ته سفر کړی وو. کله پلی، کله بیا په اورګاډي کې؛ له نویو دودونو سره اشنا شوی وو، ګڼې منظرې یې لیدلې وې او د یاد هیواد له اوسېدونکو سره یې بې کچې مینه پیدا شوې وه. هغه داسې وګړي ول چې له وجوده یې تودوخې، مهربانۍ او د ژوند د ریښتیني مانا یوه تازه لید شغلې وهلې. دا حقیقت ان د هغوی په باب هم سم وو چې د دغه ستړي مسافر پر مخ یې د خپلو کورونو او زړونو دروازې نه وې پرانیستي. په دغه جادوګر چاپېریال کې ورځې په اوونیو بدلېدې او جولیان کرار کرار-ښایي له ماشومتوبه راپه دې خوا په لومړي ځل-بیا د ژوندیتوب او بشپړتیا احساس کاوه. طبیعي پلټونکي حس غځونې پکې کولې، د خلاقیت اور یې بیا بل شوی وو او له ژوند سره مینه یې په خپل ټول ځواک یو ځل بیا ور ته راګرځېدلې وه. تر پخوا یې زیاته خوښي او ارامي احساسوله او بېرته یې خوله خندا ته جوړه شوې وه.

نوموړي په هغه له رازونو ډکه خاوره کې خپله هره تېره کړې شېبه غنیمت بلله او ویل یې چې د هند سفر یې له ډېر کاره د ستړي شوي ذهن د هوسا کولو یوه ساده رخصتي نه، بلکې اصلاً (د ځان لټولو یو سیر) وو. پټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډې يې راته وويل چې غوښتل يې مخکې تر دې چې لا ډېر پر ناوخته شي، ځان او د ژوند اصلي مانا وپېژني. دغې موخې ته د رسېدو لپاره يې تر هر څه لومړی د هند له لرغوني فرهنګ سره د تړلې پوهې د سترې خزانې ترلاسه کولو ته ملا تړلې وه. هغه پوهه چې د يوه لا ارزښتناک، بشپړ او غوره ژوند څرنګوالی بيانوي.

جوليان وويل:

- جانه، له نورو څخه د ځان د بېل ايسولو هڅه نه کوم، مګر ټيک داسې مې احساسوله لکه له دننه څخه چې يو څوک امر راته کوي. د يوه مانوي سفر د پيلولو امر! تر څو کلونه-کلونه مخکې بايللې ورکه بيا ومومم. دا د هر څه له بنده د ځان ازادولو يو ډېر ښه فرصت وو.

هر څومره چې زيات ګرځېد، هغومره يې ډېر د هغو راهبانو کيسې اورېدې چې تر سلو کلونو يې زيات عمرونه لرل. هغه راهبان چې له خپل لوړ سن سره-سره يې بيا هم په ډېره خوښۍ، ځواکمنتيا او مينه ژوند تېراوه. هر څومره چې يې ډېر سفر کاوه، هغومره يې د لوړعمره يوګيانو په باب لا زيات مالومات اورېدل چې څنګه د ذهن په کابو کولو او مانوي ويښتيا لوړولو کې استادان شوي ول. هر څومره چې يې زياتې سترګې غړولې، هغومرې يې د انساني طبيعت د معجزو تر شا د پټ دننني ځواک له موندلو سره شوق زياتېدی. هيله من وو چې په خپل ژوند کې د هغوی فلسفه وکاروي.

د سفر په لومړيو کې يې د ګڼو پېژاندو او خورا درنو ښوونکو لمنې نيولې وې. ويې ويل: هر يوه يې په پرانيستې غېږه او نهايت مينه ومنلم او د عقل له جوهره يې هر هغه څه راکړل چې هغوی د ډېرو اوچتو مسايلو په اړه د يوه عمر چوپتيا په پايله کې ترلاسه کړي ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جولیان دغه راز هڅه کوله د هغو معبدونو ښکلا راته بیان کړي چې هندوستان یې پر سر اخیستي وو. دغه ودانۍ لکه د وختونو د پوهې وفادار ساتونکي، لا هم پر پښو ولاړې وې. ده وویل:

- د دغه چاپېریال پاکۍ اغېزمن کړم.

پسې زیاته یې کړه:

- جانه، دا مې د ژوند یو جادوګر پړاو وو. دلته یو ستړی او بوډا وکیل وم. د ځغاستې له اسه نیولې بیا تر رولیکس ساعته مې خپله ټوله شتمني وپلورله او راپاتې برخه مې یې یوې لویې بستې ته واچوله. هغه بسته مې د ختیځ د ناپایو دودونو پر خوا د سفر تلپاتې ملګرې وه.

د خپل پلټونکي حس مخه مې ونه نیولای شوه، په لوړ اواز مې ځنې وپوښتل:

- ایا د هر څه پرېښودنه سخته وه؟

- په حقیقت کې مې دا د ژوند تر ټولو اسانه کار وو. له دنیایي کارونو د لاس اخیستنې پرېکړه مې پر غریزه ولاړه وه. البرټ کامو وایي: "د راتلونکي په باب رښتینی سخاوت د خپلې اوسنۍ شتمنۍ تر سر تېرېدل دي." ما کټمټ همداسې وکړل. پوهېدم چې بدلون ته اړتیا لرم. په همدې خاطر مې هوډ وکړ چې زړه ته مې غوږ ونیسم او دا کار هم په یوه ډراماتیکه بڼه وکړم. د ماضي د پېټي له پر ځمکه ایښودلو سره سم مې ژوند ډېر ساده او له مانا ډک شو. کله چې مې نور د ژوند په خوندونو پسې د منډې وهلو لمن پرېښوده، ډېرو ورو-ورو شیانو خوشحالولم. د بېلګې په توګه: په سپوږمین اسمان کې د ستورو نڅا ته کتل یا هم د اوړي په یوه ښکلې ورځ په خپل وجود د لمرینو وړانګو له نتوتلو خونداخیستنه. او هند له ذهني اړخه دومره حیرانوونکی ځای دی چې ډېر کم به د ماضي خیال رالوېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه عجیب و غریب فرهنګ له عالمانو او پوهانو سره ناسته ولاړه که څه هم یو ډول لارهوارونه وه، مګر بیا یې هم د جولیان پوهنیزه تنده نه ورماتوله. هغه پوهه چې نومووړی یې په لټه وو او هغه عملي تاکتیکونه چې ده د خپل ژوند-ژواک د بدلون هیله ځنې لرله د سیر و سلوک په لومړنیو ورځو کې په ګوتو نه ورتلل. همدا کیسه په هند کې د ده د لومړنۍ اووه میاشتنۍ رخصتۍ تر پایه روانه وه.

جولیان هله خپل اصلي هدف ته د رسېدو پر لار لومړی ګام کښېښود چې په کشمیر کې یې واړول. دا له رازونو مالامال ایالت د همالیا غرونو په لمنو کې اباد دی. هلته یې د یوګي کریشنان په نوم یوه درانه شخص سره وپېژندل. دغه ډنګر کتمي¹ سړي په موسکو شونډو ورته ویلي ول چې په خپل (مخکني جسم) کې وکیل او نوي ډیلي کې مېشت وو، له خپل کار و کسبه تر پزې راغی، ټول هست و نیست یې پرېښود او په یوه ساده-پاده نړۍ کې یې استوګنه غوره کړه. په یوه معبد کې تر اړولو وروسته یې ځان او موخه دواړه په ډېره رڼه بڼه وپېژندل.

کریشنان ورته وویل:

- ژوند مې د هوایي بریدونو اوږدو تمرینونو ته ورته وو او ډېر سخت ځنې ستړی شوی وم. اخیر مې سر خلاص شو چې اره دنده مې د نورو چوپړ او د نړۍ په بدلولو کې تر خپله وسه برخه اخیستنه ده. اوس مې ژوند تر وروستي بریده نورو ته پر ورکړه ولاړ دی. شپه و ورځ په همدې معبد کې اوسم؛ ژوند مې سخت، مګر له کماله ډک دی. کوم څه چې مې درک کړي، دلته له راتلونکو کسانو سره یې شریکوم. د اړو خلکو لاسنیوی کوم. چا ته نصیحت نه کوم. په حقیقت کې داسې یو شوک یم چې خپله اروا یې موندلې ده.

---

¹ کتمي - کل سری، هغه کس چې سر یې خربیلی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جولیان دغه وکیل ته-چې اوس یې یوګي له ځانه جوړ کړی وو-خپله کیسه وکړه. د خپل تېر ژوند د هوساینو او خوندونو حال یې ورته ووایه. د سرابنتوب او کاري جذبې بیان یې ورته وکړ. په خورا هیجان یې خپله دننۍ پرېشاني او تجربه کړی اروايي بحران ورته بیان کړ. دا کشمکش هله راپیل شوی وو چې د نوموړي د ژوند شمې د یوې افراطي او نامتعادلې ژوندنۍ تګلارې د توند توپان ښپېړه خوړلې وه.

یوګي کریشنان په همدردۍ ورته وایي:

- ملګرې زه هم کټمټ ستا په شان وم. همدا ستا ننۍ درد ما هم احساس کړی دی، خو دا مې زده کړي دي چې هیڅ پېښه بې علته نه ده. هره حادثه یوه موخه او هره ماته یو درس له ځان سره لري. په دې مې سر خلاص شو چې هر ډول شکست هغه که شخصي، حرفوي او یا ان مانوي دی په فردي غوړېدنه کې لوی رول لري؛ انسان له دننه شخه لوېږي او ګڼې اروايي ګټې ور رسوي. خپل تېر ته د یوې پښېمانۍ نه، بلکې یوه ښوونکي په سترګه وګوره.

جولیان تر دغو نصحیتونو وروسته ډېر خوشحاله شو. ښایي د یوګي کریشنان په وجود کې یې هماغه لاربنود موندلی وو چې پسې ګرځېد. هغه هم پخوا یو زبردست وکیل وو او اوس یې د خپل مانوي لټون په برکت د ژوند-ژواک یوه بهتره لار موندلې وه. ایا جولیان منځلارې، خوندور او خوبښ ژوند ته د ستنېدو لپاره تر هغه بل غوره لاربنود موندلای شوای؟

- کریشنانه ستا مرستې ته اړتیا لرم. ما ته د یوه غوره او بشپړ ژوند ترلاسه کولو چل راوښیه!

یوګي ورته وایي:

- په ډېر ویاړ! هر څه چې مې له وسه پوره وي درسره کوم یې، مګر ایا د یوه وړاندیز اجازه لرم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



جولیان ورته وایي:

- بالکل!

- له کومه راهیسې چې مې په دې واړه کلي کې د دغه معبد ملنګي پیل کړې ده، د همالیا پر اوچتو څوکو مې د ځینو مېشتو راهبانو په باب اوازې اورېدلي دي. له هغوی سره په تړلو افسانو کې ویل کېږي چې د انساني ژوند څرنګوالي ته د ژور بدلون ورکولو راز یې کشف کړی دی. مطلب مې یوازې جسمي اړخ نه، بلکې د ټولو هغو ناپایو اصولو او تاکتیکونو ټولګه ده چې د ذهن، بدن او اروا پټ ځواک خپلواکوي.

څومره عالي! جولیان یې سخت وراخیستی وو.

- دا راهبان دقیقاً چیرې اوسي؟

- هېڅوک حال نه په لري. د هغوی د لټولو وس له بده مرغه نه لرم، بوډا یم ملګرې. یوه خبره به درته وکړم هغه دا چې ډېرو یې د موندلو هڅه کړې ده، مګر په ډېره غمجنوونکې بڼه یې ماته خوړلې ده. د همالیا غرونه ډېر خطرناک دي. ان زیات مسلکي غرختونکي یې هم طبیعي پېښو ته نشي ټینګېدای. خو دغه لار د بشپړې روغتیا، تلپاته خوښۍ او دننني رضایت هغه طلایي کیلي لري چې ته یې په لټه یې. کومه پوهه چې ته پسې ګرځې زما سره نشته، مګر هغوی یې لري.

جولیان په یوه اسانه لاس اخیستونکی نه وو، بیا یې له یوګي کریشنانه وپوښتل:

- ایا ډاډه یې چې د هغوی پته نه ده درمالومه؟

- زه یوازې دومره درته ویلای شم چې د دې سیمې اوسېدونکي یې د سېوانا[1] د حکیمانو په نامه پېژني. د دوی په اسطوره پېژندنه کې سېوانا (د پوهې چینه) مانا لري. د خدایۍ تر بریده د دغو راهبانو درنښت کوي. که یې ځای

[1] Sivana

(c) ketabton.com: The Digital Library



راملوم وای، دربنودل مې یې د ځان دنده بلله، مګر له زړه در ته وایم چې نه دی راملوم. هېڅ ته نه دی ورملوم.

د دا بلې ورځې سهار تېک هغه مهال چې لمر د هند د اسمان پر رنګینو لمنو وځلېد، جولیان د سیوانا ورک وطن ته د یوه اوږده سفر موزې په پښو کړې. لومړی یې د غرختنې یوه ماهر او لاربنود نیولو ته خیال شو، مګر د یوې عجیبې انګېزې په پارونه یې غریزې ور ته وویل: دا داسې یو سفر دی چې باید یکړ [1] یې وکړي! همدا لومړی ځل وو چې د دلیل و منطق له شره یې ځان خلاص او پر خپلو جذباتو یې باور وکړ. غیرشعوري یې احساسوله چې دا سفر به یې په خیر و خیریت سره تمام شي. تر یوه بریده د خپلې ورکې پر موندلو ډاډمن وو. هغه وو چې په ځانګړې جذبه او لېوالتیا غرختلو ته اړم شو.

لومړۍ څو ورځې کار اسانه وو. کله ناکله به د کوزني کلي پر یوه خوښ و مستانه اوسېدونکي پېښ شو چې په ناڅاپي ډول به هلته تېرېدی؛ هغه به یا ښایي د توږلو لپاره په یوه مناسب لرګي پسې ګرځېد او یا به هم د هغې سپېڅلتیا په لټه وو چې د دغه عجیب و غریب ځای فضا ټولو هغو خلکو ته وربخښله چې هلته لوړ پراته جنت ته یې د ورتلو زړه کاوه. نور وختونه به یوازې روان وو او له وخته په ګټه اخیستنه به یې په چوپه چوپتیا کې پر دې سوچ کاوه چې پخوا چیرې وو او اوس پر کومه روان دی.

ډېر ژر داسې وخت هم راورسېد چې کښته پروت کلی د طبیعت پر هغه عظیمه او پر تمینه تابلو یوازې یوه ټکي غوندې ښکارېد. د همالیا په واورو د پوښلو څوکو شان به یې د زړه درزا ور زیاتوله او د اوږدې شیبې لپاره به یې ساه په سینه کې وربندوله. له شاوخوا پراته چاپېریال سره یې د یووالي احساس کاوه. د داسې یوې ملګرتیا احساس لکه د دوو ډېرو زړو یارانو تر

---

[1] یکړ - تنها، په یوازې ځان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځ چې موجود وي. هغه یاران چې کلونه-کلونه یې د یو و بل له بانډاره خوند اخیستی وي، د یو و بل ژورو او ځانګړو فکرونو ته یې غوږ اېښی او د یو و بل پر ټوکو یې د زړه له اخلاصه سره خندلي وي. تازه غرنۍ هوا یې ذهن ور صاف کړی او اروا ور سرشاره او له انرژۍ ډکه کړې وه. سره له دې چې جولیان ګڼ سفرونه کړي ول او انګېرله یې چې ټوله نړۍ یې لیدلې ده، مګر هېڅکله یې دې ته ورته ښکلا په سترګو نه وه لیدلې. هغه اعجاز چې نوموړي په هغه جادویي شپه کې نوش جان کاوه په اصل کې د طبیعت د عالي سمفونۍ یو باج وو. یودم یې ځان بېساری خوښ، مست او له هر ډول قیده ازاد احساس کړ. هغه تر انساني طبیعت ډېر-ډېر اوچت ځای وو. همدلته جولیان ورو-ورو له خپلې فردي کړۍ راووت او د یوه استثنایي قلمرو د موندنې لټون یې راونښلاوه.

جولیان وویل:

- هلته په هغه شپه کې مې پر زړه را اورېدلي کلیمې تر اوسه په یاد دي. داسې مې انګېرله چې په ټولیز ډول ژوند له سره تر پایه پر پرېکړو دی. د هر چا برخلیک د هغه خپلې پرېکړې جوړوي. او ما ته خپله پرېکړه ډېره پر ځای ښکاره شوه. پوهېدم چې نور به مې ژوند د پخوا غوندې نه وي او یوه ډېره حیرانوونکې یا ان معجزوي پېښه کېدونکې ده. خورا عجیبه وینبتیا وه.

جولیان چې هر څومره د همالیا په غرونو کې لوړ خوت، هغومره یې د ناکراري او هیجان احساس ورسره زیاتېدی. راته ویې ویل:

- خو دا یوه بېله او ښه هیجان وو. کټمټ هغسې لکه د ښوونځي د نڅا په شپه چې به مې په پېښه کېدی یا هم هغسې هیجان چې د یوې مشهورې قضیې تر پیل وړاندې به مې د محکمې په زینو کې تر شا د راپسې خبریالانو د قدمونو له کړپا څخه احساساوه. سره له دې چې هېڅ لارښود او

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**